د څیړنې غوښتنلیک نړیوال بانک د محترم انسپکشن پینل څخه،

<u>عنوان: د مس عینک د پروژه په باره کې چې د نړیوال بانک لخوا تمویل کیږي دبشپړې څیړنې غوښتنه!</u>

د څیړنې د محترم پینل و حضور ته!

زه [redacted] اندیښمن یم چې د نړیوال بانک لخوا مرسته شوې پروژه چې دافغانستان د لوګر ولایت د عینک په سیمه کې ده یا او څما د سیمې نورو اوسیدونکو ته به زیان واړوي. زه غواړم چې د نړیوال بانک څیړنې د بلې یا انسپکشن پینل لخوا نومړې پروژه په سمه توګه له سره اوګوري او وو د څیړنې او دا مهمه ده چې څما نوم پټ وساتل شي ځکه چې دا یوه حساسه موضوع ده او ویره لرم که چیرې چارواکي څما نو اوپیژني نو ګوندي مشکلات به راته پیدا کړي په دې چې شاید هغوی ته د اولس ستونزې لومړیتوب اونلري.

زه او د سیمې نور اوسیدونکي ددې پروژې پیل د اوریدو راهیسې ددې پروژې له وجه زمونګ په ژوند او آینده بلادې د زور تاثیر له اړخه ژوره اندیښنه لرو. او دا چې زمونګ لپاره دامکنه پاتې شوې ده چې کاري او مهم معلومات ددې پروژې د پلي کیدو په اړه لاس ته راوړو، مونګ بیخي په تیاره کې ساتل شوي یو او مونګ سره اړوند او لازم معلومات ندي شریک شوي. مونګ د اوږدې مودې راهیسې په دې هسه کې یو چې څه ناڅه معلومات لاس ته راوړو خو نه یو بریالي شوي که څه هم مونګ ته ویل شوي وو چې د تیر کال په اوږي کې په کابل کې یو لویه غونډه دنړیوال بانک لخواددې پروژې په اړوند جوړیدونکې وه، مونګ ستړګي په لار وو چې ګوندې ددې غونډې په برکت به مونګ مهم معلومات تر لاسه کړو خو هیڅ خبر نشو چې آیا هغه غونډه لغوه شوه او که مونګ ته دګډون اجازه ورنکړل شوه. زمونګ بعضي کسان د نړیوال بانک د کابل له څانګې سره په تماس کې پاتې شوي خوزمونګ تماسونو تر اوسه هیڅ نتیجه نده ورکړې نو په همدې وجه زه له تاسو سره مستقیم تماس نیسم.

زه ډیر اندیښمن یم چې داپروژه په ممکنه توګه ډیر زیات زیانونه مته، څما کلیوالو ته، څما د ولایت اوسیدونکوته او څما کورنۍ ته اړولې شي او په خاصه توګه یبا زمونګ کلتور اوتاریخ ته هم یبا نه جبرانیدونکي زیان متوجه دی. آیا دوی دا معدن په څه ډول استخراجوي؟ آیا دوی به په ساحه کې چاودنې کوي؟ آیا زهرجن کیمیاوي موادو څخه به استفاده کیږي؟ آیا کیدای شي دا زهرجن کیمیاوي مواد له ځمکې لاندې داوبو زیرمو کې ګډ شي او آیا دا به د شاوخوانسیمو اوسیدونکو انسانانو ژوند اوروغتیا ته زیان وانه روي. زه ډیر سخت اندیښمن یم چې دابه څما او زمونګ نتکیو ماشومانو، کلیوالو او د سیمې د اوسیدونکو روغتیا له جدې ګواښونوسره مخ کړي که چیرې ورته لازم تدبیرونه په پام کې نه وي نیول شوي او زه اندیښمن یم چې دامسې هیڅ تدبیر به تر اوسه ددغو مسایلو د مخنیوي لپاره نه وي نیول شوي او دا ډیره د اندیښنې وړ خبره ده.
آیا دا پروژه په رښتیا دومره زیاتو اوبو ته اړتیا لري چې د سیمې خلق به یبا د څښاک، څاروېو او کښت لپاره هیڅ اوبه اونلري؟ دلوګر د محمد آغې اولسوالي په ټولیزه توګه یوه کرنیزه او د څاروېو د ساتلو لپاره مهمه سیمه ګڼل کیږي او د اوبو شتون ددې مهمو چارو د لپاره خواره حیاتي اومهم دی. آیا تاسو مونګ ته دا ویلی شئ چې د ځمکې لاندې داوبو زیرمې، کاریزونه اود چینو د وچیدو غمیزه به نه پیښیږي؟ او تر ټولو مهمه داچې وروسته د کان د استخراج دچارو د بشپړیدوڅخه به دغه سیمه څنګه ښکاري؟ آیا دابه دبیخوا په څیر طبیعي ښکلا ولري او که څنګه؟ لوګر او په خاصه توګه دمحمدآغې اولسوالي خو اوس یوه خوړا ښله سیمه ده او ډیري زیاتې میوه لرونکي ونې لري، آیا د کان داستخراج وروسته به هم داسیمه همدا شان پاتې شي او که څنګه؟ د کان داستخراج موده به څومره وي؟ او داچې یو شمیر خلق لا پخوا دمعدن دسیمې څخه له خپلو کورنیو سره شړل شوي او هیڅ سرپناه ورته نه ده برابره شوې او د نورو اولسوالو همسایه ګان او حتی د خپل مړو د خښولو لپاره هم ځای نلري او یو ځای بل ځای خپل مړي په سوال خښوي او دی یوه لویه ټولنیزه ستونزه رامنځ ته کړیده او مونګ فکر کوو چې په آینده کې به هم دا معدن دسیمې داوسیدونکو لپاره دهوسایلي پر ځای کړاونه راپیدا کړه که چیرې بیدون د هر اړخیزه پلانونو ددې معدن چارې پر مخ لاړې شي. هیڅ ته معلومه نده چې په رښتیني توګه څومره کلي او خلک به ددې سیمې څخه کوچیږي او کله به کوچیږي؟ هغه ساحه چې د حکومت لخوا د عینک د بیځایه کیدونکو خلکو لپاره په ګوته شوې د نوه کلو په تیریدو هم ډیر لږساختماني چارې پر مخ تللې او کار یې نابشپړ شوی اودریدلې پاتې دی او دبیا پیل کیدو یې هم هیڅ څرک نه لیدل کیږي، د هر فامیل لپاره د ۴۰۰ متره مربع په مساحت ځمکه ورکول کیږي چې هره کورنۍ به په خپل مصرف بلندې خپله سرپناه جوړوي، کورنۍ یې که د جوړیدو توان لري اوکه یې نلري څوک یې په قصه کې ندي، او یوازې د ۵۱۲ کورنیو لپاره ځمکه په نظر کې نیول شوې ده او په واقعیت کې د مستحقو خلقو شمیر خورا زیات دی او په ایران او پاکستان کې مهاجر دعینک د

سیمي بعضي اوسیدونکي هم د مسلحو خلکو په لاس کي ندي شامل او افغانستان کي نورو سیمو ته کډه شوي. دعینک د سیمي خلق هم محروم پاتي کیژي چي یو مشکل به په راتلونکي کي د خلکو تر منځ راپیدا شي ځکه چي ۵۱۲ کورني به خوندي او نوري به همداسي پاتي شي چي د خلکو تر منځ به ناوتریخوالي رامنځ ته کړي او خلک به نسر پله څخه محروم پاته شي. او د ۵۱۲ کورنیو لپاره په ګوته شوي ساحه بیا له پخوا څخه په سیمه کي موجود د اصحاب بابا د ښار ګوټي شته ساحه ده او له بله اړخه د ستانکزیو د قوم خلق د ۵۱۲ کورنیو لپاره اختصاص شوي ځمکه باندي د ملکیت دعوي لري او د عینک خلقو ته یي ګواښ کړي که چیري سیمي ته راشي نود ستانکزیو د تند غبرګون سره به مخ شي ځکه نو د عینک نیري خلق دغي لانجمني سیمي ته که چیري د توضیع لپاره لمانه هم شي د وزګګ زړه نه ښه کوي.

او بله مهمه خبره دا ده چي ما په تلویزیون او انترنیټ باندي په عینک کي د یو ښخ کړل شوي پخواني او تاریخي ښار په اړه اوریدلي دي. په زرګونو کاله پخوا هم په دي سیمه کي مس استخراج شوي او په نتیجه کي یي یو متمدنه ښار مینځ ته راغلی وو چي اوس د ځمکي لاندي ښخ کړل سوي پاتي دي. دا تاریخي ښار د ساینس پوهانو لخوا کیندل کیدلی او په اینده کي د سیلانیانو د جذب او توجه مرکز ګرځیدلی شي او له دي درکه افغانستان ته په اینده کي د خورا زیات عاید سرچینه جوړیدی شي. دا تاریخي ښار د ساینسي اړخه د خورا زیات اهمیت لرونکي دی ځکه دا چي مونږ ته د افغانانو د زرګونو کلونو د تاریخ په اړه خورا زیات او مهم معلومات راکولای شي. په ټوله نړۍ کي خلک لا دوړ الدي څخه علاقه مند دي او زه د یو پیټیشن په اړه خبر شوي یم چي د لس ګونو زرو خلکو لخوا لاسلیک شوي چي زمونږ تاریخي ساحه د عینک په سیمه کي د اینده نسلونو لپاره وژغورلی شي. ما دا هم اوریدلي دی چي د عینک په سیمه کي یو ګودام جوړ شوي چي په هغه کي د تاریخي ښار د کیندل شوي ساحي څخه د خیلي لاسته راغلو مجسمو د ساتلو کار اخیستل کیژي. خو د حیرانتیا او افسوس خبره دادة چي څنګه یو تاریخي ښار په تمامه معنی باندي دغه ګودام ته وړی کیدی شي دا خو د یو موزیم یو څو د ابزدیانو ورګلاروخبره نده بلکي د یو ښار د نخوندي کیدو خبره ده او دا خو خورا ناممکنه ښکاري چي وړ د ایژدول شي.

موږ لا پخوا د بامیانو تاریخي بودایي مجسمي له لاسه ورکړي دي او د هغو په تخریب باندي نړیوالو دنیا په سر اخستي وه خو اوس چي د بامیانو دمجسمو څخه د زیات اهمیت لرونکي د عینک تخمیناً پنځه زره کلن د خاورو څخه لاندي تاریخي ښار له مینځه زي نو نړیوال یي سیل کوی او ژغورني په ممکنه لارو چارو یي خپل قیمتي وخت نه ضایع کوي.

موږ محلي اوسیدونکي چي په خارجي ملکونو کي ملګري او خپلوان لرو او ورسره په منظمه توګه په تماس کي یو او همدا شان د آرک انترنیشنل په نامه موسسي سره هم په تماس کي یو په کم کي چي اروپا اود امریکا په متحده ایالاتو کي میشتي افغانان شامل دي. ما د هغوی د کنفرانس راپور او د انسپکشن پینل ته چمتو شوي سند اولوست او زه د آرک انترنیشنل دغه اسنادو څخه په کلکه ملاتړ کووم ځکه چي دا ځما د نظر انعکاس هم دي.

په درناوی

[redacted]

د تسلمهر دریمه نیټه ۲۰۱۲ کال